# له کوچنيو ګناهونو ځان وساتئ

دسهل بن سعد رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: چې رسول الله ﷺ فرمايلي: «له کوچنيو ګناهونو ځان وساتئ، ځکه د کوچنيو ګناهونو مثال د هغو خلکو په شان دی چې يوې درې ته ښکته شي، نو يو تن يو لرګی راوړي، بل تن بل لرګی راوړي، تر دې چې ټول سره جمع شي او خپله ډوډۍ پخه کړي، همداسې دا کوچني ګناهونه هم دي، که څوک پرې ونيول شي، نو هلاک به يې کړي».
[صحيح دی] [احمد روايت کړی دی]

نبي کريم ﷺ خلکو ته خبرداری ورکړی چې د کوچنيو ګناهونو په کولو کې بې پروايي ونه کړي، ځکه که دا ګناهونه زيات شي، نو په مجموع کې انسان ته د هلاکت سبب ګرځي، هغه ﷺ د دې لپاره يو مثال بيان کړ: لکه هغه قوم چې يوې درې ته ښکته شي، نو هر يو تن يو کوچنی لرګی راوړي، تر دې چې ټول سره لرګي راجمع کړي او خپله ډوډۍ پرې پخه کړي، همداسې دا کوچني ګناهونه هم دي، که انسان پرې ونيول شي، او توبه ترې ونه کړي، يا ورته الله بخښنه ونه کړي، نو دا ګناهونه به يې هلاک کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66224